# ی کتابە کوتە لکە
# بێ روحە بدن


فرید (مڕ)

Ketabton.com


زما د ورځنۍ مطالعې نوټونه او ځینې لیکنې

د تاسو ټولو پښتنو ته په پښتنه مینه ډالۍ وي


هیله ده خوښ مو شي او خوند ترې واخلئ



فکر وکړه
څومره ښکلی مرګ به وي
چه ته په کوټه کې غبږ راباندې وکړې
او زه د ډېرې خوشحالۍ
په بندو پنجرو کې مړ شم...
مړ فیلسوف



ژړګی...
درپسې
نا آرام دی
ژړګیه...
مړ فیلسوف



تیاره تیارې نشي ورکولی
یواځې رڼا یې ورکولی شي
کرکه کرکه نشي ورکولی
یواځې مینه یې ورکولی شي
مارتین لوتر
مړ فیلسوف



ټول یو د بل قاضیان یو
ځکه خو مقصر یو
کامو
مړ فیلسوف



کله چه ښه ښځه په کور کې وي
خوښی له دیوالونو رالویږي.
مړ فیلسوف



سخت ترینه تنګ یم
او سخت راته خوږیږي زړګی
سخت ترې خفه یم
او سخت راته یادیږي زړګی
مړ فیلسوف


ژوندون چینجي خوړلې میوه ده
باید یوائې جوړ ځایونه یې وخوړو
برنارډ شو
مړ فیلسوف



واده عجیبه شی دی
کله له زمري ګیدړه او کله
له ګیدړې زمری جوړوي
ویکتور هوګو
مړ فیلسوف



سبا د هغو دی چه
د نن لپاره تیار وي
انشټین
مړ فیلسوف



دردونه دوه ډوله دي:
یو سړی ټپي کوي او
بل سړی بدلوي
مړ فیلسوف



په حقیقت مې خفه کړه
خو په دروغو مې
هېڅ وخت مه خوشالوه
رومن رولان
مړ فیلسوف


ریښتینی اتل هغه دی چه
پخپله غوصه او کرکه غالب وي
دالايي لاما
مړ فیلسوف



هېڅکله نه غواړم
د ګروهنې لپاره مې ومرم
ځکه کېدی شي عقیده مې
اشتباه وي
براترند راسل
مړ فیلسوف



یو ځل د وخندل
یو ځل د وژړل
ګوره دوه ځله
د مړ کړم !
فیلوسوف


هغه نشته کس چېرې؟
په خدای دا شته
کس وژني!
مړ فیلسوف


درې لویې قوې نړۍ اداره کوي
١. بې عقلي
٢. وېره
٣. حرص
انشټین
مړ فیلسوف



ساه رانه واخله
خو خندا د نه!
مړ فیلسوف



ناهیلي له بوډاتوب سخته ده
په زړتوب کې بدن زړېږي او
په ناهیلۍ کې روح...
مړ فیلسوف
جورج برنارد شو



انسان تر څو چه د عمق
تلي ته نه وي رسېدلی
آلوت نشي کولی
نیکوس کازانتزاکیس
مړ فیلسوف



څوک چه غاښ درد لري
فکر کوي د نورو ټولو غاښ روغ دي.
غریب انسان هم د بډاي
په وړاندې همدا ډول اندي.
برنارد شو
مړ فیلسوف



داسې پر مخ لاړ شه
لکه غل چه تېښته کوې
مړ فیلسوف



هره ورځ داسې ژوند مه کوئ
لکه اخره ورځ مو چې وي
هره ورځ داسې ژوند وکړئ
لکه لومړۍ ورځ مو چه وي
پائلو کوئیلو
مړ فیلسوف



خوبونه د له وخته نه تېرېږي
ښه سم آرام وکړه
بیا هڅو ته ادامه ورکړه
مړ فیلسوف



نه بایلونکی نړۍ
ته راغلی یې نه وړونکی
نړۍ ته ټاکونکی راغلی یې
ښه ټاکنه وکړه
مړ فیلسوف



يواځيني ګناه؛
زيږېدل دي
ساموئل بکت
مړ فيلسوف



کېدای شي زما دردونه
د نورو د خندا سبب وي
اما د نورو دردونه باید
زما د خندا سبب ونه ګرځي
چارلي چاپلين
مړ فيلسوف



ساموئل بکت
مړ فيلسوف
که ستړی شوې
بیخي له پښو ولوېدې
مهمه نده، بیا مقاومت وکړه
بیا وجنګیږه، بیا ماتې وخوره
دا ځل به غوره ماتې وخورې



مونږ ټول لیوني زیږو
ته راځو څو
ځیني مو لیوني پاتېږي
ساموئل بکت
مړ فیلسوف



هيله هغه سراب دی چه
کچیرې له منځه لاړ شي
ټول به له تریتوبه مړه شي
ژان دلابرویه
مړ فیلسوف



که ټوله شپه د لمر
په رڼا پسې وژاړې
د ستورو لیدو خوند
به هم له لاسه ورکړې.
شکسپیر
مړ فیلسوف



څوک چه کتابتون لري او ډېر
کتابونه لولي باید وېره تري ونشي.
له هغه چا ډار پکار دی چه یو کتاب لري
او هېڅ وخت یې ندی لوستی
خو سپېڅلی یې بولي
نیتشه
مړ فیلسوف



هر څومره چه متاهلان
ډېرېږي هغومره
جنایتونه کمېدای شي
شکسپیر
مړ فیلسوف



هره ورځ مو د ژوند
تر ټولو ښکلې ورځ وګڼئ
مارک تواین
مړ فیلسوف



يواځې هغه خلک له
خندا سره بلد وي چه
ډېر يې ژړلي وي
اوريانا پالاچي
مړ فيلسوف



کوم سړی چه درته وايي
يواځې ستا سره مينه لرم!
کټ مټ د هغې ښځې پشان دی
چه مغازې ته درسره ځي او
وعده کوي چه هيڅ نه اخلي.
ويکتور هوګو
مړ فيلسوف



مړ فیلسوف
د هرې بایلې په مقابل
کې د یو شی ګټلي او د
هرې ګټې په مقابل کې
د یو څه بایللي تشویش
مه کوه ژوند همدا
بایلل او ګټل دي



مینه خدای دی او
خدای ج مینه ده
انشټین
مړ فیلسوف


ژونده!!!
نور خو د هیلي
هم نشي ګنډلی
لکه چې
له اغوستو ولویدې
مړ فیلسوف


مینه ستا او بل هر څه
تر منځ پل دی
رومي
مړ فیلسوف



بې له خپلوا کۍ ژوند
د شرمه ډک دی
آرد بزرگ
مړ فیلسوف


وفادارئ ته د
دومره اجازه مه ورکوه
چه د غلامئ تر سرحده ورسي
مړ فيلسوف



ته باید پوه شې !
ژوند هغه څه ندی چه،
تا ته درکړل شوی بلکه،
هغه څه دي چه ته يې جوړوې
او لاسته يې راوړې
مړ فيلسوف



کتابونه الوتکې، اور ګاډي
او سړک دي
دوی فاصلې او سفر دي.
دوی کورونه دي !
انا کاندلين
مړ فيلسوف



واقعي دوست هغه دی
چه تر لاسو د ونيسي
خو زړه د لمس کړي
مړ فيلسوف
مارکز


دوه شیان زښته ډېر دي
کهکشانونه او د انسان حماقت
اما په لومړي کې شک لرم
مړ فیلسوف انشتین



په اړ وخت کې زړ او
ډېر شتمنېدل
تر غریبۍ ډېر خطرناک دي
مړ فیلسوف ناپلیون هېل


ژوند ستاسو میرځمن ندی
اما د اند ډول مو دوښمن
کېدای شي!!
ریچارډ کارلسون
مړ فیلسوف/FB


ښه ده چې ماښام شي
توره تیاره شي
ډیوې بلې شي
زما د اوښکو دریابونه
او د رقیبانو تبسم
هیڅ به هم
نه لیدل کیږي
Shanza Khan


ټول واقعي جهنم
یواځې په یوه کلمه
کې دی: یواځېتوب
ویکتور هوګو
مړ فیلسوف


پلار مې ویل:
خلک په دوه ډوله دي
ښښونکي او اخیستونکي
اخیستونکي ښه خوراک کوي
اما ښښونکي ښه خوب...
مارلو توماس
مړ فیلسوف/ FB



چانس له نېکبختۍ سره
مستقیمه اړیکه لري هر څومره
چه هڅې وکړئ
هغومره به مو چانس ښه وي
ری کراک
مړ فیلسوف



✓ Friends
Message
See Friendship
Poke
Add to Interest Lists...
Unfriend...
Report/Block
Add a Badge
Site
فاصلې...
اړیکو ته کوم زیان نه رسوي
مکر
شک، دروغ او چل
د پای ټکی ورته ږدي
د پای...
فـم
غم يعني؟



بې له تا!
زه هېڅ يم
له تا سره!
يو شى يم
چه دواړه شو!
بيا هر څه يم


څوك وايي
چه انسان يو ځل مري؟
ستا په نشتون کې هره
ثانيه مرم
اوس ته ووايه انسان
څو ځله مري؟
The only مر guy


چه زه درديږم ته درديږې
چه زه خوښيږم ته خوښيږې
که زه درد درکوم...
ته مينه راکوې
که زه رنځ درکوم
ته بيا هم مينه را کوې
بلاخره مورجانې!!
ته هغه واحد موجود يې
چه له مينه جوړه يې
او نړۍ ته مينه ورکوې



د نړۍ تر ټولو اسانه کار دا دی
چه خپل ځان واوسې
خو تر ټولو سخت کار
هغه څوک اوسېدل دي چه نور
خلک يې غواړي
ډيل کارنګي
مر فيلسوف


مطالعه
به د فکر وګډوي
او ته به د ښه سوچ
خاوند شې
مړ فیلسوف
Studying will dance your thoughs
and you will become fit (brainy)



انسان
بې له يواځېتوبه
بل هيڅ ندی
هيڅ...
ميلان کونډرا
مړ فيلسوف



قسم په خدای
ستا تصوير
ستا تصور
ستا فکرونه
او ستا يادونه مي
په زړه وريږي...
Shanza khan


که غواړې چه بشپړ انسان شې
لومړی بايد بشپړ حيوان شې
مړ فيلسوف/FB


هر څومره چه د خپلې
بریا لپاره هڅې کوې
له هغو زیاتې د خپل
ارزښت لپاره هم وکړه
انشټین
مړ فیلسوف


کله کله خلك ژاړي
لدې خاطره نه چه ضعیف دي
بلکه لدې خاطره
چه د ډېر وخت لپاره قوي وو
هرتا مولر
مړ فیلسوف



چا چې ډېر ریښتیا ویل دلته په دار شو
څوک چې لاړل میخانې ته، گناهگار شو
څوک چې تا ژغوري له اوره، هغه څنگه؟
د مـــلا تر فتوی لاندې، اهل نار شو؟



خپل یواځېتوب ته ګورم
وایم
لکه چه دې نړۍ کې
یواځې زه ژوندی یم...
مړ فیلسوف


خلک کل کیږی لیرې ډالی خپلو یارانو ته
ته د قدم خاورې رالیږه ما ته منظورې دي
مرفیلسوف



لویدیځ ته لاړم اسلام وو
مسلمان نه
ختیځ ته چه راغلم مسلمان وو
خو اسلام نه
سیدجمال الدین افغان
مړ فیلسوف


هو!!!
د غره پشان یواځې
خو قوي درېږم
خیر دی ته د نه وې
زه ځانته بدلون ورکوم
مړ فیلسوف



ډېره...
هڅه مې وکړه
چه خلك پوه کړم
اما دوی یواځې وخندل
چارلي چاپلین



یوه منه راولوېږده
نړۍ یې د جاذبې له قوې خبره کړه
مګر په زرګونو جسدونه راولوېدل
خو بشر بیا هم د انسانیت له معنی
خبر نشو
چارلي چاپلين
مړ فیلسوف


انسانان په دوه ډوله دي
یو په تیاره کې وینې
بل په رڼا کې ویده
جبران خلیل جبران
مړ فیلسوف

زړه مې غواړي داسې ځای ته لاړ شم
چه په ریښتیا زما ځای وي
داسې ځای چه پکې سم خوښ شم
اما زما ځای هیچیرې نشته
ځکه زه زښته ډیر یم
زښته...
ژان پل سارتر
مړ فیلسوف






ادبیات
شاید د جنګ
او وینې تویولو مخه
ونشي نیولی
شاید د یو ماشوم د مړینې مخه
ونشي نیولی
خو داسې کار کولای شي چه
نړۍ یې په اړه فکر وکا...
ژان پل سارتر
مړ فیلسوف



اندونو ته د وګوره
کلمې کېږي
کلمو ته د وګوره
کړنې کېږي
کړنو ته د وګوره
عمل د کېږي
عملو ته د وګوره
شخصیت کېږي
شخصیت ته د وګوره
برخلیک د کېږي
لو تزو
مړ فیلسوف



"سپي هیڅکله ما
نه خوري،
یواځې انسانان"
مرلین مورو
مړ فیلسوف



انسان په ژړا کې
نړۍ ته راځي
کله چه ښه ډېر وژاړي
له نړۍ بیرته ځي
اَکیروکو روساوا
مړ فیلسوف



کله کله چه وایم ښه یم
زه غواړم چه یو څوک راشي
سترګو کې راته په مینه وګوري
او په غېږ کې مې ټینګ
ونیسي ووایي
چه نه نه!!
زه پوهیږم ښه نه یې
مړ فیلسوف



غج اخیستلو ته اړتیا نشته
یواځې کېنه او انتظار وکړه
هغه چه په تا یې ظلم کړی
بلآخره به خپله جزا ویني
که چیرې ډېر ظالمن وي
خدای ج به اجازه ورکړي
چه په دواړو سترګو یې ووینې
مړ فیلسوف



د "ښکله" او "ښه وخت"
په اړه فکر پر پرېږدئ!
همدا وس یې پیل کړئ.
"ګل مکۍ"
مړ فیلسوف



کله چې ریښتیا د سر په بیه شي، نو له
دروغو سره خوندوره انډیوالي جوړیږي.
ګل مکۍ
مړ فیلسوف


پخپلو سترګو مې مینه راځي
چه کله ته پکې ګورې
پخپل نامه مې مینه راځي
کله یې چه ته اخلې
په زړه مې مینه راځي
هغه وخت چه ته یې لمسوې
له ژوند سره مې مینه لرم
کله چه ته پکې وې
کرکه لرم له هغه ژوند چه ته پکې نه وې
مړ فیلسوف


ناکامي
په بریالیتوب ووژنه او
په مسکا یې خښه کړه!



مه راته وایه!!!
چه زما په اړه یې څه ویل
دا راته ووایه
چه تا ته یې ولې
دومره په راحتۍ ووېل؟
جې-زي
مړ فیلسوف


موږ د مینې لپاره مرو
او د مینې لپاره ژوند کوو
انشتين
مړ فیلسوف



تر ټولو خطرناک دروغجن
هغه دي کوم چه
فکر کوي دوی ریښتیا وایي
مړ فیلسوف


يو لوستونکی مخکې لدې چې مړ شي
زر ګونه ژونده کوي
اما هغه څوک چې،
هيڅ لوست نه کوي
يوازې يو ژوند کوي
جورج مارتين



څومره ښايسته لکه نړۍ ده
له غرو راغلې غرڅنۍ ده
دا د ګوربت د غره هوسۍ ده
جينۍ ورد که ملالۍ ده
چې په لار ځي د خلکو زړونه ماتوينه
مړ فيلسوف


که چېرې
تېرو وختونو ته
د ژوند اجازه ورکړې
تا به ژوند ته پرې نږدي
مړ فيلسوف



ژوند خر دی
مړ فيلسوف



که هر څه کیږي په ژوند کې:
مهرباني د غوصې
مینه دکرکې او
ښښنه د غچ په ځای وټاکئ
نلسن مانډېلا
مړ فیلسوف


څوک چه چاپلوسي کولای شي
په چا پسې تهمت تړل
ورته یو نصوار هم نه دی!
ناپلیون بوناپارت
مړ فیلسوف/FB


زه د بریا کلي نه پېژنم
اما د ماتې کلي، د ټولو
د خوشحالولو لپاره هڅې دي
ویلیم هنري
مړ فیلسوف



وینې؟
څومره چوپه شپه ده
لکه هېڅوک چه نړۍ کې نه وي
یا شاید، زه د هېچا نړۍ کې نه وم
ويګور
مړ فیلسوف


ذهن هغه ځای دی چه،
کولای شي له جنته دوزخ
او له دوزخه جنت جوړ کړي
جان میلټون
مړ فیلسوف



هېڅوک نشته زه تنها یم راشه
زړګیه دغه دي په خولا یم راشه
دومره ظالم، دومره کافر چېرې یم
چه تا به سېزم، نا سزا یم راشه
د زړه ټکور شه، د زړه زخم مې شه
تا پسې ورک بې انتها یم راشه
ژوند را ګلشن کړه یا یې اور کړه واړه
رنګو کې پروت بې سر پناه یم راشه
انسان ګاندي خپله، ولې ځان خورې
"فرید" خو مړ ستا د حیا یم راشه
مړ فیلسوف



تر ټولو دردونو زیات...
مړ فیلسوف
د ورك درد
زغمل سخت دي



نورو پسې تګ سړی خړ مخی کړي
ګرد د لارې وګوره د شپون په مخ
(استاد صدیق پسرلی)
مړ فیلسوف



آیا ښځه یواځینی څیز ندی
چه له جنته را پاتې؟؟
البر کامو
مړ فیلسوف



د ژوند لویه غلطي مې
دې نړۍ ته را تلل وو
مړ فیلسوف



نور هغه وخت ندی چه
و اندو دا نړۍ چا پیدا کړې،
باید پوه شو چه څوک یې
په ورانولو ډېر بوخت دي.
نوام چامسکي
مر فیلسوف



دوه شیان زښته ډېر دي
کهکشانونه او د انسان حماقت
اما په لومړي کې شک لرم
انشټین
مړ فیلسوف


تول بښم!!!
د مسیح د صلیب په پښو کې
د هغو تندي ښکلم چه خیانت یې کړی
او هغه چه نه یې دی کړی
شونډې یې ښکلم
آنا آخماتووا
مر فیلسوف



زه که چېرې جنت کې وم
او را ته وواېي حق نه لرې
چه دوزخ په جنت ښه و بولې
لدې جنته ځم
ژان روستان
مر فیلسوف


غوصه کیږه مه
ته کیمیا یې
کیمیا ته یې
ته کیمیا کې
او کیمیا تا کې پرته ده...
مر فیلسوف



بریا څرګندولو او
ناکامي بهانو
ته اړتیا نه لري
ناپیلیون هیل
مر فیلسوف




موږ خدای پیدا کړی
که خدای موږ؟
دا د کفر انتها نده
بلکه د تفکر پیل دی
مړ فیلسوف نیچه


له خلکو لري ځم
لدې امله نه چه آرام ژوند وکړم
بلکه لدې خاطره چه آرام مړ شم
مړ فیلسوف فرانتس کافکا






هغه کوم ځای دی چه زړه د غواړي تل پکې پاتې شي؟
هغه بې ځایه ځای چه شتون لري خو ما نه لیدلی او نه
به یې په عمر ووینم.
دا ورک ځای کوم ځای دی؟
هغه ستا زړه! مړه!
مړ فیلسوف





ملینا ته لیک:
مینه زما په لید دا ده:
ته خنجر یې او زه د خپل
بدن کې منډم او را منډم
مړ فیلسوف فرانتس کافکا


کله چه څه له لاسه ور کوئ
هغه زدکړه چه ترې
تر لاسه کوئ هېڅکله
له لاسه مه ور کوئ!
دالایی لاما



په یاد و لرئ
د انسان نیکبختي
په شتمنۍ یا مقام
پورې اړه نه لري
یواځې افکار تاسو
نېکبخت کولی شي
ډیل کارنګي


انتظار مه کوئ!
بشپړ مناسب وخت
هېڅ وخت نه را رسېږي
ناپېلیون هېل



مینه هغه وسیله ده چه ټول کوچیني
کړاوونه په یو غټ کړاو بدلوي
ولتر




پښتو
څنګه وساتو په زړونو کې پښتو
لکه وینه په رګونو کې پښتو
چه لیکل او لوستل هم وربانديِ وشي
د دفترو په کارونو کې پښتو
په بچیانو یې څه شوي نه پوهیږم
چه فقط یې وي خیالونو کې پښتو
یوه داسې کارخانه دلته پکار ده
چه قلمو ته ور واچوي رنګونو کې پښتو
په خوله شپه او ورځ که وي زما یې څه؟
زه خو غواړم نړیوالو کتابونو کې پښتو
مړه پاڅه چه د ژبو یې کړو سیاله
لا تر څو به مو اوسیږي سپېرو غرونو کې پښتو


د ژوند تر ټولو لویه
اشتباه مې دا وه چه،
فکر مې کړ که په
چا کار و نه لرم
په ما به هم کار ونلري
وودي آلن






یواځې راغلو او یواځې ځو
همدا یواځینی څیز دی
چه پرې پوهیږو...
کنراد آیکن






ستاسو د ژوند څرنګوالی دوه څیزونه ټاکي
• کتابونه چه لولئ
• خلک چه ور سره وینئ
مک لوهان


په روا په ناروا کله پوهېږي
و چارپای ته څه روا څه نا روا
مړ فیلسوف رحمٰن بابا



خندا باید وساتوء
په خندا لیکل وکړو
مړ فیلسوف سارتر



تول هغه څیزونه چه کېدای شي
نابغه ګان یې په راتلونکي کې ووایي
زما او ستاسو وجود کې شتون لري
یوائې هغه باید پیدا کړو
او ګوته پرې کېږدو...
مړ فیلسوف مترلینګ



ډېری خلک له آزادۍ سره
دومره مینه نه لري،
ځکه آزادي او مسؤلیت
یو له بل سره تړلي دي
او ډېر خلک له مسؤلیته
سخته وېره لري
زیګموند فروید
مړ فیلسوف


ښکاره خبره ده
چه ټولو ځیزونو
ته سړی نه رسیږي
اما ټول ځیزونه باید وغواړو
سارتر
مړ فیلسوف



کیاله: پوهیږې سپوږمۍ
ولې دومره یوازې ده؟
لوګن: نه، ولې؟
کیاله: ځکه چه مینه ده!
مړ فیلسوف



موږ نړۍ ته راځو چه مړه شو
د ژوند پیل د مړینې صفرې ټکی دی
له موږ سره مړینه نړۍ ته راځي او
دا یوازینی حقیقت دی چه باور پرې
کولای شو
ساموئل بکټ
مړ فیلسوف


اورېدلي مې دي چه
ژوندون سخت دی
اما زه ډېر ترې سخت یم
چارلي چاپلین
مړ فیلسوف


ځان مې تېنګ غېږ کې نیولی
نه په دومره نرمۍ
او نه په دومره مینه
اما په پوره وفادارۍ...
ساموئل بکټ
مړ فیلسوف /FB


ښه قضاوت
د تجربې پایله ده
تجربه
د بد قضاوت پایله ده.
مارګارت آتوود
مړ فیلسوف



هر کله چه د شوخۍ هوډ لرم
حقیقت بیانوم دا د نړۍ
تر ټولو لویه شوخي ده...
جورج برنارد شاو
مړ فیلسوف


نن ورځ سخته ده
سبا کېدای شي تر نن سخت وي
مګر بل سبا به ډېر ښکلی وي...



آزادي تر ټولو
قيمتي لغت دی
جکما
FB/مړ فیلسوف


لیکل:
په سکوت کې
د زړه انفجار دی
کریستین بوبن
مړ فیلسوف



مادر ترزا
راځئ تل یو
له بل سره په
مسکا ووینو
ځکه چه مسکا
د مینې
پیلوونکې ده
Fb/مړ فیلسوف




د نورو په خوښه
واده کول
په دوزخ کې
د ژوند تاکنه ده
آرتورشو پنهاور
مړ فیلسوف


خاطرې که تاسو د ننه ګرموي
په عین وخت کې
مو ټوټه ټوټه هم کوي...
هاروکی موراکامي
مړ فیلسوف






څو چه له آزادو ښځو
نوی نسل منځته رانشي
هېڅکله به لوی او درانه
خلک ونه وینو...
رابرت گرین اینگرسول
مړ فیلسوف






زما اختر هغه وخت دی
چه دې بزګر یوکلن زحمت
دې پاچا د یوې شپې
له ماښامي سره برابر نه وي
چکوارا
مړ فیلسوف


هیڅوک دومره مسکین ندی
چه چا ته مسکا ورنکړی شي
او هیڅوک دومره بډای ندی
چه مسکا ته اړتیا ونلري
چارلي چاپلین
مړ فیلسوف



واقعاً یو انسان هغه وخت مړ دی
چه هیڅوک یې په اړه فکر نه کوي
برتولت برشت
مړ فیلسوف


په ژوند کې اړینه نده
چه ځان مو پیدا کړئ
اړینه دا ده ؛
چه ځان جوړ کړئ
جورج برنارد شاو
مړ فیلسوف



که آلوتی نشې، منډه وکړه
که منډه نشې کړی، قدم ووهه
که قدم نشې وهلی په سینه وخوځېږه
او لاړ شه هر کار چې کوې ترسره یې کړه
هڅه وکړه او حرکت ته د ادامه ورکړه...
مارتین لوتر کینګ
مړ فیلسوف




بې مېنې؛ د پیسو په خاطر
سره واده کول
د فاحشه توب
تر ټولو بد ډول دی...
ګابریل ګارسیا مارکز
مړ فیلسوف


زدکړه هغه یواځینۍ او
تر ټولو قوي وسله ده چه
کولای شو په نړۍ کې
پرې بدلون راولو
نېلسن مانډېلا
مړ فیلسوف





عمر مې پدې تېر کړ
تر څو پوه شم چه؛
په هر څه..
پوهېدل اړین ندي
RENÉ COTY
رنه کوتي
مړ فیلسوف


ځینې وختونه غوږ کېدل
د یو انسان سره
د مرستې یواځینۍ لار ده
رومن ګاري
مړ فیلسوف



نړۍ یو کتاب ده
هغوی چه سفر ندی کړی
یوائې او یوائې
یوه پاڼه یې لوستې...
اګوستین
مړ فیلسوف /Fb


اړتیا د اختراع مور ده
مړ فیلسوف
– پلوټو –



یوه ښځه کچېرې وغواړي
حتی کولای شي په غېږ یې
تا په غېږ کې ونیسي
اېلهان برک
مړ فیلسوف/Fb



د کتاب له سوځولو څخه ډېر بد جرایم شته
دي. یو له هغو څخه یې نه لوستل دي
جوزف بروسکي
مړ فیلسوف



داسې انسان وو چه آزار يې
يو مېږي ته هم نه وو رسېدلی
اوس مېږيان دهٔ پر ژوندي دي
مګر هغه نه...
مارګرت اتود
مړ فيلسوف



تاسو پوهيږئ چې کله
د کوم کتاب د لوستلو
په پای کې اخره پاڼه
واړوئ داسې حس کوئ
لکه چې کوم ملګری
مو ورک کړئ وي
مړ فيلسوف – پال سويني



زما له مينې بد کيږي
ځکه يو ځل مين شوم
مور مې هېره کړه
مارک ټواين
مړ فيلسوف/Fb


د انسان په ژوند کې
دوه څيزونه مهم دي:
د سړيو لپاره ښځې
او د ښځو لپاره پيسې
ژان لوک ګدار
مړ فيلسوف


ته یوائې یو ځل ژوند کولای شې
نو د ځان لپاره ژوند وکړه
مهمه نده چه نور څه اندي !
پائلو کوئلو


که تاسو هغه کتاب لولي
چه هرڅوک یې لولي، تاسو یوازې
هومره سوچ کولای شی لکه
هر بل کس یې چې کولای شي
هاروکي موراکامي
Fb/ مړ فیلسوف



له هغه چا سره اوسېدل
چه په قدر مو نه پوهېږي
وفاداري نده، حماقت دی
ژوزه ساراماگو
FB/ مړ فیلسوف


موږ بې عقل نه وو
ساده وو، له سادګۍ مو
احمقانو ته اجازه ورکړه
چه په ژوند کې مو دخالت وکړي
چګوارا
FB/ مړ فیلسوف


Yasmin khan
مړ فیلسوف
هر کور کې
چه مور نه وي
هغه کور کې
تیاره وي
مور خو د
ژوند ډیوه ده



له درد سره
مې مقاومت
شروع کړې
له پښو نه
مې راخېژي



زه ډېره مینه ناکه یم
خو ښکلې نه یم
زه گناه کړمه
خو شیطانه نه یم
زه ډېره ښه یم
خو ملایکه نه یم
مړ فیلسوف
Marilyn Monroe



چا چه هیڅکله
مړ فیلسوف
غلطي نده کړې
هیڅ نوی حس یې
ندی تجربه کړی
انشټین


مور یوائځې په رحم
کې سره برابر یو
اوریانا فالاچي
FB/ مړ فیلسوف


زما سره مینه وکړه
لږ ...
اما اوږده...
مړ فیلسوف
اوریانا پالاچي


کله چه مړه شم جنت ته ځم
ځکه دي نړۍ کې مې
دوزخ کې ژوند وکړ...
اوریانا فالاچي


چګوارا
مړ فیلسوف
ژوندکوم...
حتی که هر څه هم له لاسه ورکړم
ځکه دا ژوند دی چه،
هر څه یې راکړي
پرېږده چه هر څه له لاسه ورکړم
زه هغه څه نغواړم
چه په زاریو او التماس ککړ وي
حتی که ژوند هم وي!



د ډاکتر غلطي تر خاور لاندې کیږي
د انجینیر اشتباه په خاورو سقوط کوي
مګر د ښوونکي غلطي د خاورو په سر
ځي او د نړۍ ساتنه کوي
مړ فیلسوف




نړۍ یو ګلبڼ دی
ښځې ګل غوټۍ
او سړي ګل بوټي دي
د ښکلا پته یې ته ولګوه
زړګیه زه د مبالغې خدای یم






هیله مند یم یوه ورځ دا حقیقت
په واقیعت تبدیل شي چه ټول
انسانان سره برابر دي
مارتین لوتر کینګ
مړ فیلسوف /FB





نړۍ ته یوه مور یې
خو کورنۍ ته بشپړه نړۍ
مورې!



شل کاله وخت نیسي
تر څو یوه ښځه یې
له زویه سړی جوړ کړي
اما شل دقیقې وخت نیسي
تر څو یوه بله ښځه
له هغه احمق جوړ کړي
هلن رولنډ



د هر بل څیز په شان
مړه کېدل یو هنر دی
سیلیویا پلاټ



زه هغې پېښې بوډا کړم
چه هیڅ پېښه نشوه
مړ فیلسوف ماتسو باشو



ما تل باور درلود چه،
په طبیعت کې
له ښځې ښایسته نشته...
کابریل گارسیا مارکز
مړ فیلسوف


مړ فیلسوف/FB
هوډ د بري لومړی آر دی
Decision is first step of success
تصمیم اولین شرط کامیابیست
Dawood Khan



وخت تر ټولو ښه ښوونکی دی
مګر افسوس چه
ټول زده کوونکي يې وژني
مړ فیلسوف
هکتور برلیوز


حماقت یعني
ریښتیني اوسېدل
له هغه چا سره
چه سیاست لري
سیلویا پلات



په نړۍ کې بشپړ ځای د ټولو لپاره شته
نو د دې په ځای چه د بل ځای ونیسې
هڅه وکړه چه خپل ځای پیدا کړې
چارلي چاپلین



ځینې کتابونه باید هیڅ ونه لوستل شي
ځینې کتابونه لکه مینه باید وړیا وویشل شي
مړ فیلسوف



موسیقي د عقلي اعتدال
سره مرسته کوي
افلاطون
مړ فیلسوف



که چیرې سړي ته زدکړه ورکړې
یوازې یو سړي ته د زدکړه ورکړې
اما که ښځې ته زدکړه ورکړې
نو یو بشپړ نسل ته د زدکړه ورکړې
بریګام یانګ
مړ فیلسوف /Fb



د موسی پشان دې
د دیدن تږی وږی شوی یم
مهربانی خو د را عطا کړه
-مړ فیلسوف-


د کافر نښه دا ده چه،
په نړۍ کې ورک وي
د مسلمان نښه دا ده چه،
نړۍ پکې ورکه وي
علامه اقبال
مړ فیلسوف



تر څوچه انسان پخپلو
تېرو وختو کې بندي وي
د نوي او ښه ژوند پيدا کول ورته
سخت څه چه ناممکن دي
علامه اقبال
مړ فیلسوف



درې څیزونه د ډیر
وخت لپاره نه پټیږي
لمر، میاشت او حقیقت
-مړ فیلسوف-



له خپلو میرځمنو سره
مینه وکړئ شاید بدنام شي
استانیسلاو یرسي لځ
مړ فیلسوف



د قلم رنګ ستاسو
په واک کې دی
جنت رسم کړی
او ورننوزئ
مړ فیلسوف



نړۍ هغه ګل دی چه،
ګلپاڼې یې خیالي
او اغزي یې حقیقي دي
کارمن سیلوا
-مړ فیلسوف-



ژوندون ډېر جدي مه نیسه
ځکه هیڅکله له هغه
ژوندی نشې وتلی
البرت هوبارد
مړ فیلسوف



له داسي ټبر سره مو کار دی چه،
فکر کوي خدای بې له دوی
بل هیچا ته هم لارښوونه نده کړې
ابن سینا بلخي
مړ فیلسوف



موسیقي
د خدای غږ دی
مړ فیلسوف
ابن سینا بلخي


هر حکومت یې
د خلکو پشان دی
افلاطون
مړ فیلسوف


تر ټولو لوی خطر په څه کې دی؟
په زړه سوي کې!
نیچه
مړ فیلسوف



هغه چه کورنۍ ته يې
احترام نه لري
نه ټولنې ته احترام لري
نه ځان او نه بشريت ته
ماري کوري
مړ فيلسوف



انسان وژنه د وېرې
نښه ده نه د قدرت
مړ فيلسوف



داسې واوسه چه،
هر چا ته وويلای شې
زما پشان اوسه
ايمانوئل کانت
مړ فيلسوف



يا سمې خبرې وکړه
يا عاقلانه چوپتيا غوره کړه
جرج هربرت
مړ فيلسوف



د سړي ټولې اړيکې او
اندونه د يوې ښځې په
مينه نه ارزي
فرانسوا اولتر
مړ فيلسوف


د انسان او سپي
تر منځ توپير دا دی:
که سپي ته ډوډۍ ورکړې
هېڅکله به خوله دروانچوي
لوی تولستوی
مړ فيلسوف



څنګه کېدی شي چه
يو نفر د قانون
په ماتولو ملامت وي
پداسې حال کې چه
د ژوند کولو لپاره پيسې نه لري
راس مکډونالډ
مړ فيلسوف



تر ټولو ډېر غمګين
هغه څوک وي چه،
تر ټولو ډېر خاندي
ژان پل سارتر
مړ فيلسوف



یواځې هغه وخت
آزادېږم چه،
فکر د نکړم!
میخائل بولګاکف
مړ فیلسوف



د یوې بریا خوند
د سلو ناکامیو په
خوند ارزي
سقراط
مړ فیلسوف



نه غواړم ژوند وکړم
لومړی غواړم مینه وکړم
او د هغې په لړ کې ژوند
Zelda Fitzgerlad
مړ فیلسوف



مور یواځینی موجود دی
چه د پاکې مینې په معني پوهیږي
انوره دوبالزاک
مړ فیلسوف


د ژوند ستونزه همدا ده
چه د ټولو څیزونو په قدر پوه شې
او په هېڅ شي ځان ونه تړې
اندرو میتوس
مړ فیلسوف


زه مې د شرایطو
محصول نه یم
زه مې د هوډونو حاصل یم
ستیفن کاوې



ښکلا هماغه شی ده
چه ته یې خپل ځان کې حسوې
او په سترګو کې
د منعکس کیږي
سوفیا لورن
مړ فیلسوف



مور به مې ویل:
مینه د انسان لپاره د نړۍ
تر ټولو غوره ډالۍ ده
اما زه اندم چه هېرول
د نړۍ تر ټولو غوره ډالۍ ده
ځکه چه هېڅ مینه تر ابده نده پاتې شوې
نتالیا کینزبرک
مړ فیلسوف



زه هغه وخت آزاد یم چه،
په نړۍ کې ټول خلک آزاد شي
تر څو چه نړۍ کې یو فرد
هم آزاد نه وي
آزادي شتون نه لري
ژان پل سارتر
مړ فیلسوف



خلک په دوه ډوله دي
یو په ښکلي ځای پسې ګرځیدونکي
بل ځای ښکلوونکي
مړ فیلسوف



ښکلی مخ هیڅ شی دی
که چیرې تك تور
بدرنګ زړه ولرې!
مړ فیلسوف



موسیقي نړۍ ته روح ورکوي
مغزو ته وزر
تصوراتو ته الوتنه
او ژوند ته هر څیز...
پلوتو
مړ فیلسوف


پرون او سبا راته يو طرف شوي
پرون يې په خاطراتو دوکه راکړه
سبا يې په وعدو ويده کړم
کله مې چه سترګې خلاصې کړې
نن هم تېر وو
آلبر کامو
مړ فيلسوف



خوشالي کول يواځېنی غچ دی چه،
انسان يې له ژونده اخيستی شي
چه ګوارا
مړ فيلسوف



له ظاهري ښکلا
باطني ښکلا
ډېره غوره ده
ګاندي
مړ فيلسوف



د سړي شرافت لکه د ښځې بکارت داسې دی،
که يو ځل له منځه لاړ بيا هېڅکله نه سمبړي
علي شريعتي
د بشر له خرافاتو او ماشومانه اندونو څخه
يو دا دی چه بکارت د فضائلو جز ګڼي
فرانسوا اولتر
مړ فيلسوف


پدې هېواد کې بخیلي، کینه
او تنګ نظري د ټولو خلکو
دوهمه دنده ده
مړ فیلسوف



مهمات خو لرې
نو هله
ضربه وکړه
د موسکا!!!
مړ فیلسوف



زه بې عیبه نه یم
او نه غواړم چه واوسم
مخکې لدې چه پیل وکړې
ګوته د ما ته ونیسې
ځان باوري کړه چه،
خپل لاسونه د پاک دي؟!
باب مارلي
مړ فیلسوف



آرام؟؟
د څه لپاره آرام وکړم؟
کله چه مړ شم پخپله آرامېږم!
مخکې له مرګه باید ارام ونکړو
نامعلوم
مړ فیلسوف


په لومړۍ سیالۍ کې چه روزونکی وم
دعا مې کوله او له خدایه مې غوښتل چه
وړونکی شم اما بریالی نشوم خو وپوهېدم
چه مقابله ډله هم خدای لري نو
وروسته مې هڅې پیل کړې...
الکس فرګوسون
مړ فیلسوف



کوچینی خوښې غواړم
دومره کوچینی چه،
څوک ونغواړي
هغه له ما واخلي
ناظم حکمت
مړ فیلسوف



هڅه وکړه!
پخپلو عمالو وویاړې
د نیکونو په عمالو ویاړ
د هغو مړو خپل حق دی.
سامراست موام
مړ فیلسوف


آلبر کامو
نن ټیټ شوم او د مړه زیږېدلي
ماشوم غوږ کې مې ورو وویل:
هیڅ د له لاسه ندي ورکړي...
مړ فیلسوف


کله چې په دې پوه شی چې ستاسو
خبرو ته خلک ارزښت ورکوي، نو بیا د
لفظونو انتخاب کې باید ډیر پام وکړی.
مکی
مړ فیلسوف



تر ټولو دردونو زیات...
مړ فیلسوف
د ورك درد
زغمل سخت دي



تر ټولو له کړاوه ډک کار په
نړۍ کې له هغه چا سره بحث
کول دي چه له ځانه سره یې
قول کړی وي نه به پوهیږي
مارك ټواین
مړ فیلسوف



سړي چه کله مینیږي
نوي زیږیږي
اما ښځې چه مینیږي
همغه شیبه مري...
ویسلاوا شیمبورسکا
مړ فیلسوف



جانان مې ویل که د اختر په ورځ کې راغلې
زه مې خپل ځان په اختري کې درکومه
ما ویل نو مړه زه د کله اخلم
مړ فیلسوف



که چېرې چا ته انتظار ونلرو
هېڅکله به ناهیلي نشو...
سیلویا پلات



تر ټولو لویه ګناه چه کېدای شي
انسان پرې اخته شي
پرې اخته شوی یم
نېکبخته نه وم...
ارنستو ساباتو
مړ فیلسوف



که ونشم کولای چه آزادي او عدالت
یوځای ولرم او اړ شم د دې دوو له
منځه یو وټاکم نو آزادي به وټاکم تر
څو وکولای شم د هغې په واسطه د
بې عدالتۍ په خلاف اعتراض وکړم
البرت کاموس
مړ فیلسوف



مینه د نړۍ تر ټولو
لویه سوداګري ده.
مړ فیلسوف



وږی او فقیر انسان
له پست او بې عاطفې انسان
څخه ډېر غوره دی
چارلي چاپلي
مړ فیلسوف



مړ فیلسوف
پدې نړۍ کې باید
یا
له دروغجنو سره مینه ولرو
یا
باید یواځې ژوند وکړو



زما ژوند زما جد و جهد
د انفرادي او اجتماعي حرکتونو فرق دا دی چه
حکومتونه انفرادي حرکتونه خاموشولی او ختمولی
شي. همدا وجه ده چه په انفرادیت کې وېره ډېره
وي او حکومتونه اجتماعي حرکتونه نشي وژلی.
باچاخان
مړ فیلسوف



د ژوند تر ټولو بده برخه
انتظار کول دي او
د ژوند تر ټولو ښه برخه
د داسې چا درلودل دي
چه د انتظار ارزښت ولري
ریچارډ باخ
مړ فیلسوف



زه دلته تاریخ نه بیانوم
صرف دا خبره ښکاره کوم چې د دې خه وجه ده چې پښتنو لوی لوی
حکومتونه جوړولی شول، خو ټینګولی یې نه شول، د دې وجه دا وه
چې په پښتنو کې اجتماعي ژوند، قومیت او اتفاق نه و



د هر سړي خپل عزت پخپل لاس
کې دی. که هر سړی خپل
خواهشات قابو کړي، نو تل به په
آرام خوشاله او عزتمند وي.
باچا خان
مړ فیلسوف



هر کله چه مور فاسده شي
نسل یې هم فاسدیږي
ساموېل سمایز
مړ فیلسوف



دومره ماتې مې وخوړې چه،
بلآخره مې زده کړل څرنګه
ماتې ورکړم.
ناپیلیون بناپارت
مړ فیلسوف



هیڅ وخت مې ندي غوښتي
چه دوښمنان مې وپیژنم ځکه
چه پوهېدم نیږدې ملګري
به مې له لاسه ورکړم.
مړ فیلسوف
HILARY SWANK
MILLION DOLLAR BABY



هغوی چه غواړي د کال څلور
موسمه د پسرلي وي
نه ځان پېژني، نه طبيعت
او نه هم ژوند
مړ فیلسوف فرانسوا ولتر



خلک وایي:
ښه خلک پیدا کړئ، بد پرېږدئ
نه، باید داسې ووایي:
په خلکو کې ښه والی پیدا کړئ
او په بدو یې سترګې پټې کړئ
هېڅوک بشپړ ندي!
مړ فیلسوف



"لرغون پېژندونکی د یوې ښځې لپاره
تر ټولو ښه خاوند کېدلی شي
ځکه چه هر څومره بوډۍ کېږي
هغومره ډېره ورته ګرانېږي."
آګاتا کریستي
مړ فیلسوف



یو احمقانه اند که چېرې
پنځه میلیونه کسانو
منلی وي بیا هم احمقانه دی
کارل مارکس
مړ فیلسوف



انګرېزان
THE NON-VIOLENT PATHAN IS MORE
DANGEROUS THAN THE VIOLENT PATHAN
د عدم تشدد په اصولو روان پښتون د
متشدد پښتون نه ډېر خطرناک دی
مړ فیلسوف



i am lost without you
ورک چه په ځان کې وم جهان مې لیدو
تا کې چه ورک شوم همه زه ښکارم
حمزه بابا
مړ فیلسوف



په هر شي کې نوي وټاکئ!
اما په ملګرو کې زاړه...
ګاندي
مړ فیلسوف



چه مین سر په زنګون شي د لوړتیا تپوس يې مه کړه
په معنی کې به له ځمکې آسمانونه جوړوي
حمزه بابا



ژوندي کسان هغه دي چه مبارزه کوي
هغوی چه بې مبارزې ژوند کوي مړه دي
ویکتور هوګو
مړ فیلسوف



د انسان په ځای له
ځانه انسانیت پرېږدئ!
د مثل په تولید خو
هر ژوی بلد دی
براتراند راسل
مړ فیلسوف



حمزه بابا
ته اسلام پښتو ګڼه دوه، زه وایم
خدای هم که انسان وی نو پښتون به وه..
مړ فیلسوف/Fb



حتی هغه کسان چه باور لري هر څه مخکې
له مخکې ټاکل شوي له سړک څخه د تېرېدو
په وخت کې یو بل خوا ګوري
ستیون هاکېنګ
مړ فیلسوف



ژوند لکه پیسې چه هر ډول د زړه غواړي
مصرفولی یې شې خو یوائې یو ځل!
لیلین ډېکسن
مړ فیلسوف



ډېرئ هلکان اندي چه زه به یې بشپړ
کړم یا به یې ژوند ښکلی کړم اما زه
یوائې هغه بدبخته نجلۍ یم چه پخپله
ذهني آرامۍ پسې ګرځم
چارلي کافمن
مړ فیلسوف



هو زما پشان د مهربانه خلکو
یواځینی ستونزه دا ده چه،
اندي ټول زموږ پشان دي
مړ فیلسوف



که غواړې نړۍ جوړه شي
ځان جوړ کړه...
لوډویګ
مړ فیلسوف


د یو عادي فقیر انسان ژوند
د نړۍ د یو بډای او مهم سړي
تر ټولې دارایی ډېر ارزښت لري
چه
مړ فیلسوف



کمزوري خلک هېڅ
بښنه
نشي کولی
بښنه
کول خو د لویو
خلکو کار دی
ګاندي
مړ فیلسوف



که د ټولو قوانینو او
محدودیتونو شتون ته مې
پاملرنه شوې وای
هېڅ ځای ته نه رسېدم
مرلین مونرو
مړ فیلسوف



د ځان پیدا کولو تر ټولو ښه لار
دا ده چه د نورو په خدمت کې
ځان ورک کړې
گاندي
مړ فیلسوف


هېڅ څیز د وېرې په اندازه له
انسانه توان او انرژي نه اخلي.
مړ فیلسوف



د حقیقت بیان مو بډای کوي نه
بلکه، آزادي او خپلواکي درکوي
وېل دورانټ
مړ فیلسوف


مذهبي جذبه خلک نفرت اوکرکې ته
مجبوروي او بیا د دې خلکو مقابله
هیڅ نشي کولای
ابن خلدون
مړ فیلسوف


مهرباني هغه ژبه ده چه
هم یې ړانده ویني او
هم یې کاڼه اوري
مارک تواین
مړ فیلسوف


انشتین
کله چه زدکړه پرېږدې
مړینه د پیلیږي.
مړ فیلسوف


باب مارلې
پیسې هیڅ وخت ژوند
نشي پېرلی
مړ فیلسوف




تر هر وخته چه
دولتونه شتون لري
آزادي به پیدا نشي
کله چه دولتونه له
منځه لاړ شي
آزادي به پیدا شي
لېنن
مړ فیلسوف





بد هوډونه
ښــــې کیسې
جوړوي
الیس وېلدر
مړ فیلسوف





ته چه نه وې
زموږ ټول کور
دردکوي
نزار قباني
مړ فیلسوف






هېڅ توپیر نه کوي
کله چه ستړی شوې
کله چه له پښو ولوېدې
بیا مقاومت وکړه!
بیا وجنګېږه او بیا ماتې وخوره
کېدای شي دا ځل له مخکېنی
ماتې ښه ماتې وخورې.
ساموئل بکت
مړ فیلسوف


خنډونه د ژوندیو
انسانانو لپاره وي،
مړي ته خو
هر څوک لاره پرېږدي.
مړ فیلسوف


د نړۍ څرخونه
دوه څیزونه څرخوي:
• لوږه
• مینه
فرید ریش شیلر
مړ فیلسوف


نصیحت که اغېز لرلی
خوشي به نه وای
مړ فیلسوف


د اوس په قدر پوه شئ
تېر وخت تللی او
راتلونکې شاید هېڅ رانشي
کالیله
مړ فیلسوف


که په پوره اندازه ژوند وکړې
پوه به شې چه
هره بریا په ماتې بدلیږي
سیمون دوبووار
مړ فیلسوف



هر انسان د بل انسان دوزخ دی
سارتر
مړ فیلسوف



مرګ د ټولو ستونزو حل دی
د انسان نشتون
د ستونزو نشتون!
ستالین
مړ فیلسوف


د خوښ او خوشاله
ژوند کلي کمزورې
حافظه ده
جوجو مویز
مړ فیلسوف



انتظار سخت دی
هېرول هم سخت دي
مګر دا چه نه پوهېږې
منتظر واوسې
که هېر یې کړې
ډېر سخت دي...
پائلو کوئلیو
مړ فیلسوف


This must be the place
د مړينې لپاره ډېرې لارې شتون لري خو
تر ټولو بده یې دا ده چه ژوند ته ادامه ورکړې
مړ فیلسوف



کله چه دا ټولې نوې
اشتباوې شتون لري
ولې پخوانۍ تکرار کړو؟
برتراند راسل
مړ فیلسوف


رحمن بابا ته چا ووېل راځه مسجد ته نن ملا صاحبان راځي
ده ورته وویل ملا صاحب ولې راځي؟
هغه نفر ورته وویل راځي وعظ کوي نصیحت کوي
نو بابا ورته وویل:
رحمن دومره له خپل یاره اوزګار ندی
چه غوږ ونیسي ناصح غوندې اوزګار ته
مړ فیلسوف


سوځول، کبابول او ورانول کوي
مینه نه، دوزخ نه، دوزخونه دي
مړ فیلسوف



مړ فیلسوف
احساساتي کېږم نه خو؛
عقل، فکر او منطق هر څه مې کنګل شي
بې حسه ګونګ انسان شم
او نړۍ له سره تر بېخه وګورم
وایم د ژوند بشپړ تعریف او انځور لکه چه همدغه دی



د زرګونو پرون او
میلیونو سبا په منځ کې
یواځې نن شتون لري
نن له لاسه ورنکړې
بیل ګېټس
مړ فیلشوف



ښه سړي هېڅ د ښو ښځو
په نصیب کېدی نشي ځکه،
ښځې په بدو سړیو مینېږي
او له ښو سړیو سره د زړه درد کوي.
وېکتور هوګو
مړ فیلوسوف



هر بېګا وایي سبا له به خوله درکړم
دا بېګا به په رحمن کله سبا شي
مړ فیلسوف


مړ فیلسوف
یو ملا په لمانځه ولاړ وو مجنون یې له مخې تېر شو نو ملا ورته ووېل اې سترګې د وتلې، سترګې د ړندې دي زه په لمانځه ولاړ یم او ته مې له مخې تېر شوې.
مجنون ورته وویل: زه د انسان په مینه کې لېونی ولاړ یم او قسم په خدای که مې ته لیدلی وې. خدای دې په دواړو سترګو ړوند کړه ته چې د خدای په مینه کې ولاړ یې څنګه د زه ولیدم؟



له پوهې څخه جهالت
سړي ته ډېر د خوشحالۍ
احساس ورکوي
چارلز داروین
مړ فیلسوف



په ناروغه ټولنه کې
روغ خلک ناروغ ګڼل کېږي
نیتشه
مړ فیلسوف



ΛΟΥΚΑΣ
یو صحیح عمل له زرګونو
نصیحتونو څخه غوره دي
~ Luke the Evangelist ~
مړ فیلسوف



د انسان په ژوند کې تر ټولو
لوی حماقت هغهٔ چا ته
مسکا کول دي چه د یو ځل
خالي کتو ارزښت هم نه لري
ساموئل بکت
مړ فیلسوف



بریالی ژباړن هغه دی چه
د نورو چوپتیا وژباړي
خو له بده مرغه تر دې دمه
په بیلیونو کسانو کې شتون نلري



The big bang Theory
سلام
زه پوهیږم چه بېرون یاستئ
اکسیجن اخلئ او
کاربن ډای اکساید خارجوئ



عجیبه ده!
ښځې له خدایه یواځې
یو مېړه غواړي خو
له مېړه یې بیا په ټوله
نا توانۍ سره ټوله دنیا...
شکسپیر
مړ فیلسوف



قوي انسان پدې
انتظارکې نه وي چه
څوک به یې نیکبخته
یا بدبخته کړي
مارلون براندو
مړ فیلسوف



په یوه ټولنه کې چه
کار د استعداد په اساس
نه وي وېشل شوی
په حقیقت کې یې
ټول خلک بېکاره دي
فرانسوا ولتر
مړ فیلسوف


د ښو کتابونو لوست
په حقیقت کې د پخوانیو باشرافته
خلکو سره خبرې کول دي
دکارت
مړ فیلسوف



ملینا ته لیک:
مینه زما په لید دا ده:
ته خنجر يې او زه د خپل
بدن کې منډم او را منډم
فرانتس کافکا
مړ فیلسوف



ښځې هیڅ وخت
د سړیو پشان
نشي بریالی کېدلی
ځکه ښځې نه لري
چه لارښوونه ورته وکړي
دیک ون دایک
مړ فیلسوف


که غواړئ خوشاله شئ
نور خوشاله کړئ
مارک تواین
مړ فیلسوف


هغه کار سخت خوند کوي چه،
ټول درته وايې نه يې شې کولی
خو ته يې په بریالیتوب سره وکړې
رومن پولانسکي
مړ فیلسوف


ښځه بلا ده
خو خدای د هیڅ کور
بې بلا نه کوي
مړ فیلسوف



زموږ صفات د خپلو
ملګرو په اخلاقي ښېګڼو
او بدګڼو پورې اړه لري
توماس کارلایل
مړ فیلسوف



معصومتوب او
ماشومتوب چه
له حده واوړي
په لېونتوب بدلېږي
مړ فیلسوف



SUCCESS
بریا
FAILURE
ناکامي
وېره دوې معناوې لري:
• هر څه پرېږده او وتښته
• له هر څه سره مخ شه
او لکه غر ودرېږه
مړ فیلسوف


ژاړه مه ځکه،
هېڅ نه بدلېږي
وخانده ځکه،
هر څه پېښ شوي
هېټلر
مړ فیلسوف



غریب هغه ندی
چه پیسې نه لري
غریب هغه دی چه هیلې نه لري
سقراط
مړ فیلسوف


ځان مې ټینګ په غېږکې نیولی
نه ډېر په مینه او
نه ډېر په لطافت
اما په بشپړه وفا سره...
ساموئل بکت
مړ فیلسوف



ټول څیزونه رایادېږي او
همدا خاطرې د بدبختۍ باعث کېږي.
زما په نظر حافظه د بشر
تر ټولو بده او لویه بدبختي ده
اورسن ولز
مړ فیلسوف


نن مې سندرې وخوړې
اوبه مې واورېدې
په څمڅه والوتم
هوا کې کښېناستم خو
سوچونو کې مې ته وې
د هېڅ په مزه پوه نه شوم
مړ فیلسوف


ژوند ته دوه
څیزونه معني ورکوي
مینه او کتاب
زړګیه دا تل یاد لره!
مړ فیلسوف



پدې نه یم خواشینی چه
دروغ د راته ویلي
پدې خفه یم چه
نور په تا باور نشم کولی
نیچه
مړ فیلسوف



په خدای غواړم وخاندم او
ډیر زړه مې هم ورته کیږي
خو شونډې مې ویني کیږي.
مړ فیلسوف


حقیقت په اصل کې
د خنداګانو او ژړاګانو
ترکیب دی
داستا یوفسکي


جنت یو مشخص ځای
او مشخص وخت ته نه ویل کېږي
جنت بشپړېدو ته وایي
ریچارد باخ
مړ فیلسوف



مړ فیلسوف وایي :
څوک چه ډېرې غوصې کوي
مینې ته اړتیا لري



هر څوک چه پسرلی غواړي
د ژمي کړاوونه او سختۍ به زغمي
روسو
مړ فیلسوف


د هغې ښځې سره واده وکړئ
چه کچیړې ناړینه وای
تر ټولو نیږدې ملګری به مو وو.
کنفسیوس
مړ فیلسوف



مړ فیلسوف
ځینې چه هر څومره..
ځان تریخ کوي
هغومره خوږیږي
دا ولې؟


اصلا انسانیت مهم دی
ژوند خو خره هم کوي
مړ فیلسوف



د نورو خلکو اوښکې
په خوښیو بدلول تر ټولو
لویه او غوره نیکبختي ده
بودا
مړ فیلسوف



۹۹ ځله ولوېږه
۱۰۰ ځله پورته شه
آخر به موخې ته ورسېږې
مړ فیلسوف



د ژوند لومړی نیمایي
مو د مور او پلار
په لاس تباه کیږي او
دوهمه د زامنو.
کلارنس دارو
مړ فیلسوف



د زدکړو لرونکي او
نه لرونکي انسان توپیر
همداسې دی
لکه د مړه او ژوندي
ارسطو
مړ فیلسوف



د نورو له سوځولو څخه
ځان سوځول ډېر غوره دي
...مړ فیلسوف...
Burning yourself is
better than others...
...Mar Failasoof...



ف: د خواښې ولې نګور بده راځي؟
ب: ځکه چه زوی یې تر اخیستی وي
مړ فیلسوف



د ژوند لپاره داسي څوک
وټاکه چه په هر ځل کتو سره
وايي دا څه معجزه ده؟؟؟
فریدا کالو
مړ فیلسوف



کار د وخت تېرولو
یوه ګټوره وسیله ده
نیچه
مړ فیلسوف


هر څومره چه خلکو ته
نیږدې کیږې هغومره د
یواځیتوب زیاتیږي.
اوریانا فالاچي
مړ فیلسوف



کله کله اړینه ده
چه ځینې خلك
د خپل ژونده ورك کړئ
تر څو خپل ځان پیدا کړئ
ژان پل سارتر
مر فیلسوف


کاشکي!!
په ژوند کې
اول سړی بوډا زیږیدلی
وریسې ورو په ورو ځوانیدلی
په اخر کې ماشوم کیدلی
څومره له خونده به ډک وای
نه به زه دومره تنها کیدلی
او نه ته دومره دردمن
مر فیلسوف


په میلیونو او میلیاردو
انسانان دې نړۍ کې شتون
لري، ټول بې له تا ژوند
کولای شي آخر په ما بدبخت
څه ټکه رالوېدلې چه نشم
کولای؟
رومن ګاري
مر فیلسوف



باور وکړه!
هغه څوک چه د تل
پاتېدو وعده درکوي
زر تلونکی دی
ویسلاوا شیمبورسکا
مړ فیلسوف


چوپتیا!!
په دردونو کې
د پټ انسان یوه نښه ده


د ژوند تر ټولو
ساده زدکړه دا ده
چه هیڅ وخت
څوك مه آزاروه
ژان ژاك روسو
مړ فیلسوف


ژباړه
مړ فیلسوف
مینه لکه جنګ
پیل یې آسانه
ختمول یې له کړاوه ډك
خو هیرول یې ناممکن دي
Lo st ve.



دهرې  موضوع په اړه درې
ډوله لیده شتون لري
• زما لید
• ستا لید
• حقیقت
اوریانا فالاچي
مړ فیلسوف


هر څومره مې
چه مطالعه ډېره وکړه
هغومره مې
په خدای ګروهنه ډېره شوه
انیشتین
مړ فیلسوف


مینه کمه ده
ژوند ناشناخته دی
هیڅ شی نه ختمیږي
خو خلک بدلیږي
مرلین مونورو
مړ فیلسوف



تجربه د غلطیو مستعار نوم دی
اسکار وایلډ
مړ فیلسوف


نه څوک پېژني
نه یې څوک پېژني
په ناپېژانده چا پسې تنګ دی؟
که په ورک چا پسې مړ کېږي؟
په ناپېژانده شي پسې تنګ دی؟
که په ورک څیز پسې مړ کېږي؟
په هېڅ یې نه پوهېږم
خدایزده...
دا زړه لیونی څه غواړي؟
مړ فیلسوف



د نن ورځې خلک د هر څه په قیمت پوهېږي خو، د هیڅ شي په ارزښت نه
اوسکار وایلډ
مړ فیلسوف


که چېرې ما هغه د لومړي ځل لپاره په مې‌تون کې لېدلې وای
د هغه مې‌تون نوم مینه تون کېدلا
یو بل به مو په مینه مینه کتلی وای
سلامونه به مو سره کړي وای
څومره جامونه به مو د یو بل په روغتیا سره خالي کړي وای...؟
مګر افسوس چه زه او دا د جنګ په میدان کې سره مخ شوو
هغې ما ته په میرځمانه ډول کتل، ما هغې ته
هغې په ما نښه ونیوه، ما په هغې
او ومې وژله
مړ فیلسوف


تا سره مینه لرم
که د له یو نفره
اضافي بل چا ته ووېل
ستر خاېن یې
مړ فیلسوف
I'm all yours



فکر کول سخت دي
ځکه خو هرڅوک
قضاوت کوي
کورل گوستاو جنگ
مړ فیلسوف



وړتیاو ته مو اجازه ورکړئ چه نړۍ وشرنګوي
مړ فیلسوف


هـــيـــڅـــکـــلـــه!!
د خـــپـلـو خوښيــو کـلـي
د بل په جيب کې مه ږده
مړ فيلسوف


له خبرو سره مو ډېر پام کوئ!!!
کله چه وويل شي
يواځې ببښل کيږي
هيريږي هيڅکله نه
مړ فيلسوف


ځينې خلک تل مري
ځينې خلک يواځې يو ځل
او ځينې بيا هيڅکله نه مري
للمه سلګۍ
مړ فيلسوف



دومره وخت نه لرم
له هغو خلکو نفرت وکړم
څوک چه رانه نفرت کوي
زښته ډېر بوخت يم
د هغو خلکو سره په مينه کې
څوک چه راسره مينه لري
مړ فيلسوف





هغه څه وکړه چه مینه ورسره لرې
نو د ژوند تر آخره به دې
یوه ورځ هم کار ونکړې


مړ فیلسوف





هغه ښځې
چه د نرانو سره د ځان
برابرښت غواړي
ډېره کوچینۍ
هیله لري
ویکتور هوکو
مړ فیلسوف



ایمان راوړل له فکر کولو اسانه دي
ځکه خو د مذهبیانو شمېر
له متفکرانو په کراتو، کراتو ډېر دی
- برتراند راسل
- مړ فیلسوف



زه هیڅ کله نه بایلم
یا یې وړم
او یا یې زده کوم
مړ فیلسوف


خفه کېږه مه!
یوه ورځ نه یوه ورځ
به یو څوک راځي
داسې ټینګ به
د غېږ کې و نیسي
چه ټولې ماتې ټوټې
به د بېرته
سره یو ځای شي
مړ فیلسوف



د بوجۍ کمیس به وکم
په قران که ملا وکم
مړ فیلسوف


هره ایډیالوژي د قدر وړه ده
خو په یو شرط چه
هیواد پالنه پکې خوندي وي
او کتبه ورته ورسوي.
شهید داوود خان



خدای موږ ته ندي فرمایلي
چه لوی لوی کارونه وکړو
اما باید کوچیني کارونه
په لویه مینه سر ته ورسوو
مادر ترزا
مړ فیلسوف



هیڅ کله هم دا څلور شیان مه ماتوه
• باور
• قول
• اړیکې او زړه
ځکه، دا چه کله ماتیږي غږ نه لري
خو زښته ډېر درد لري
مړ فیلسوف
چارلیز دیکنز



واده د هیلو مړینه ده
وودي آلن
مړ فیلسوف


زه د نړۍ ختمېدو ته
دومره اهمیت نه ورکوم
ځکه زما نړۍ څو څو ځله
ختمه شوې او د بلې ورځې
په ګهیځ بیا نوې پیل شوې
بوکوفسکی
مړ فیلسوف



که غواړې دوه مخی و اوسې
حد اقل یو له هغو ښه وټاکه!
مرلین مونورو
مړ فیلسوف


له بشرېدو مه وېرېږه
ځکه چه هیڅ وخت
نشي کېدای...
ماري کوري
مړ فیلسوف



ښه پوهېږم معشوقې
ته باید ګل واخیستل شي
اما زه دومره غریب یم.
هغه پیسې چه د ګل اخیستو
لپاره یې ټولې کړم
باید ډوډۍ پرې وخورم
یلماز ګوني
مړ فیلسوف



په انسانیت مو دومره
مه نازېږئ حیواناتو ته
ولا که د یو ناخود
په اندازه اهمیت لري
...مړ فیلسوف...


خوښبېري د چه نېکبخته شې؟
له هېڅچا توقع مه لره!
باب مارلي
مړ فیلسوف



لوی خلک د جدایي په وخت کې
یوائې خدای پاماني کوي اما
کوچیني خلک سپکاوی کوي او ځي.
لائو تزو
مړ فیلسوف



تر دي دمه تا ته منتظر وم
اوس ځانته انتظار...
مړ فیلسوف


لمر که هر څومره ګرم شي
سمندر نشي وچولی
مړ فیلسوف
...ژباړه..


هغه کس چه
دروغ نشي ویلی
حقیقت هم نه پیژني
نیچه
مړ فیلسوف


ځیني وختونه ژوند
له ځانوژني ډیر
جرأت ته اړتیا لري
آلبرکامو
مړ فیلسوف


وروځې که هر څومره وړې وي
له ږیرې مشرانې دي
مړ فیلسوف
ژباړه



تجربه تل د انسان په ګټه نده
ځکه هیڅ پېښه د دوهم ځل لپاره
په مخکېني ډول نه پېښېږي
چرچل
مړ فیلسوف



چا چې باور درباندې کړی
هیڅ وخت دروغ مه ورته وایه
او چا چې دروغ درته ویلي
هیڅ باور مه پرې کوه!
مړ فیلسوف



پیسې له تورې ډېرې تېرې دي
مړ فیلسوف
ژباړه



متل
مړ فیلسوف
توره او سپینه غوا
دواړې سپینې
شیدې کوي



که ونو پیسې کولی
بنځو به له بیزوګانو
سره یاري کړې وای
افریقایي متل
مړ فیلسوف


لېوه تل لېوه زیږوي او
مېږه تل مېږې خو
یوازې انسان دی چه
کله لېوه او کله مېږه زیږوي
نیچه
مړ فیلسوف



TESS GALLAGHER
حتی مرغان هم
یو له بل سره مرسته کوي
راشه!!
مرسته راسره وکړه
نیږدې راشه
چه ښکل د کړم
The Graywolf Press
1976
مړ فیلسوف


ډېر لوړ مه ځه دلته
ژورو کې زښته
ډېر خوندونه دي
مړ فیلسوف



د ډارن او بې غیرت سړي له ښځې غوره
ده چه د یو اتل کونډه یا یواځې پاتې شي
مړ فیلسوف
...ژباړه...



کرکه پرېږده
مینه وکړه
ژړا پرېږده
خندا وکړه
دروغ پرېږده
رېښتیا وکړه
پښېماني هم
هر څه وکړه
ژوند ډېر لنډ دی زړګیه!


هیڅ وخت
د مینې سوال مه کوه
ځکه سوالګر ته څوک
ارزښتناک څیزونه
نه ورکوي
علي شریعتي
مړ فیلسوف



باد که هر څومره نرم وي
سمندر په شور راولي
مړ فیلسوف



که فکر کوې چه
یوې عاطفي اړیکې
ته اړتیا لرې
نو یو سپی وپېره
مړ فیلسوف


په خبرو زر
باور مه کوه ځکه
دروغ له رېښتیا
ډېر تېز خپرېږي
مړ فیلسوف



دواړو یو نفر
یوائې پرېښود
لومړی تا زه!
او بیا ما ځان
ایلهان برک
مړ فیلسوف



د ښځې زړه د رازونو ژور بحر دی
مړ فیلسوف



د بریالي انسان په ځای
هڅه وکړه چه
ارزښتمن انسان واوسي
انشتین
مړ فیلسوف



مینه رنځوري ده
او معشوقه یې
یواځېنی درمل...
مړ فیلسوف ژباړه



که چیرې لېوه قاضي شي
یو وزه به هم بې ګناه
ونه ګڼل شي
مړ فیلسوف


ټول وبښه!
لدې امله نه چه
د بښنې وړ دې
د دې لپاره چه
ته د آرامۍ وړ یې
لوئس بورخس
مړ فیلسوف



له نړۍ څخه د ځان
استعمارول ډېر غوره دي
دېکارت
مړ فیلسوف


ته زما د یواځېتوب
په اندازه ښایسته
او زه ستا د ښکلا
په اندازه بدبخته یم
مړ فیلسوف



ځینې ښځې
له اوره وېرېږي
او ځینې
بیا پخپله اور وي
ژباړه
مړ فیلسوف


زه ژړنه ډېرې
ستونزې لرم خو شونډې
مې یې نه پېژني
چاپلین
مړ فیلسوف



هغه چه ښه
پیروي نشي کولی
رهبري هم نشي کولی
ژباړه
مړ فیلسوف



د ځان اداره کولو لپاره
د له سره استفاده وکړه
او د نورو لپاره
د له زړه څخه!!
دالای لاما
مړ فیلسوف



زه فکر کوم
ځکه خطرناک یم
تاسو هم
خطرناک شئ!
مړ فیلسوف


ډېر زيات موجود دي
خو ډېر
کم خلک ژوند کوي
اوسکار وايلډ
مړ فيلسوف



رهبر د غوصې
په وخت کې
بايد هېڅکله
تصميم ونه نيسي
ژباړه
مړ فيلسوف



په نړۍ کې
له حقيقت ويلوهېڅ شی
سخت او
له غوړه مالۍ هېڅ شی
اسانه نشته
داستايفسکي
مړ فيلسوف



چرګان چه دې
نوې نړۍ ته راځي
خپله پخوانۍ نړۍ ورانوي.
تاسو راځئ دا
جهان وران کړو
کېدای شي تر دې
غورې نړۍ ته لاړ شو...
مړ فيلسوف


دژوند درس
تل غلط کس
صحیح تدریسوي
مړ فیلسوف



جګړه داسې لوبه ده چه
په موسکا سره پیلیږي
چرچل
مړ فیلسوف



شاعران ډیر
دروغجن خلک دي
نیچه
مړ فیلسوف



که پیسې ولرې
انسانان به د وپېژني
که پیسې ونلرې
نو انسانان به وپېژني
افلاطون
مړ فیلسوف


بریا په هر عمر کې ښه ده
خو که زر یې تر لاسه کړې
د ډېر وخت لپاره به خوند ترې واخلې
ناپیلیون هېل
مړ فیلسوف



که یوه دقیقه
غوصه شې
د خوشالۍ
۶۰ ثانیې بایلې!
امرسون
مړ فیلسوف



د مینې په غېج
اخیستو کې ښځه تل
له نره ډېره وحشي ده
نیچه
مړ فیلسوف
Wikipedia Commons


له رڼاوو سره خو
هر څوک مینه کوي
راځه د وحشت له تورتمونو
سره هم مینه وکړو
مړ فیلسوف


هغوی چه ډېری
خبرې کوي نه پوهېږي
هغوی چه لږ
خبرې کوي پوهېږي
لوتزو
مړ فيلسوف


زه په قفس کې یم
او د قفس میلې
په ما کې د ننه...
کافکا
مړ فیلسوف


د هسې وخت وژلو
پر ځای کوم کار وکړه
کنه وخت د وژني!
پائلو کونیلو
مړ فیلسوف


مونږ په هېڅ هېواد کې ژوند نه کوو
حتی د ځمکې په کره کې هم نه اوسېږو
زموږ حقیقي منزل د هغو کسان زړه دی
چه مینه ورسره لرو...کرېستېن بوبن
مړ فیلسوف


The Digital Library






خيانت تل د باور په اوج
کې منځته راځي


مړ فیلسوف










له ټولو سره مینه وکړه
په لږ باور وکړه او
له هیچا سره بدي مه کړه
شکسپیر
مړ فیلسوف


که پلان مو یو کلن وي
وریژې وکرئ،
که لس کلن وي
ونې وکرئ او
که سل کلن وي
په ماشومانو مو تعلیم وکړئ
کنفسیوس
مړ فیلسوف



د ټولو فسادونو
سرچینه بېکاري ده
شیطان د بېکاره لاسونو
لپاره کار تیاروي
پاسکال
مړ فیلسوف


په یو وخت کې
دوه ځایه ژوند کړم
هلته چه ته یې
او دلته چه زه یم
مارګارت اتوود
مړ فیلسوف


لومړی اشتباه
د خپل حق دی خو
دوهمې ته ډېر فکر کوه
آنتون چخوف
مړ فیلسوف


هېڅ رقم زهر
مثبت اندي نشي وژلی
او هېڅ ډول درمل
منفي اندي نشي رغولی
مړ فیلسوف


هڅه د ټولو...
بریاوو بنسټ دی
مړ فیلسوف


دوې ډلې خلک هېڅ وخت خپل
عادي ژوند ته نشي راګرځېدلی
هغوی چه جګړې ته تللي او
هغوی چه عاشق شویدي
رومن رولان
مړ فیلسوف









حسادت انسانان
ړندوي
او د دې سبب
کیږي
چه صحیح فکر
ونکړي


---

مالکوم ایکس







چا چه بدي درسره کړې
بښل يې پخوا نه بلکه
راتلونکې تغیروي
ګاندي
مړ فیلسوف


په یاد لره!
د بریا لپاره تر هر څه ډېر
ارادې او هوډ ته اړتیا لرې!
ابراهام لېنکلن
مړ فیلسوف



راځه پیسې وسېځو او
بیا مو ثروت اندازه کړو
د ثروت اصلي معیار ...
مړ فیلسوف



هر څومره چه انسانان
ډېر پېژنم هغومره...
مې سپي ډېر خوښېږي
مارک ټواین
مړ فیلسوف


په ژوند کې تر ټولو مهم څیز څه دي؟
یواځې یو څیز مهم دي، خوښي...
هېچا ته اجازه مه ورکوه چه درنه واخلي
کریستین بوبن
مړ فیلسوف


تاسو دوه ژونده لرئ
دوهم هغه وخت پیلیږي
چه پوه شئ یوائې
یو ژوند لرئ
کنفسیوس
مړ فیلسوف



یوائې دري خیزونه مې زده دي
سادګي، صبر او مهرباني
همدا درې واړه ډیرې سترې
خزانې دي
لائوتسه
مړ فیلسوف


ټول ګاونډیان مو اندي
چه موږ لېونیان یو
مونږ هم فکر کوو
چه هغوی لېونیان دي
هم موږ او هم دوی
سم فکر کوي.


هغه کسان چه
په زور ځانونه جالب ښیي
تر ټولو ډېر
د کرکې وړ ګرځي
خلیل جبران
مړ فیلسوف



که زه ونه سوځم
که ته ونه سوځې
که موږ ونه سوځو
دا تور تمونه
به څوک رڼا کوي؟
ناظم حکمت
مړ فیلسوف


په ګونډو ژوند کولو څخه
د ولاړې مړینه غوره ده
کامو
مړ فیلسوف



هېڅوک آزاد ندی
حتی مرغان هم
په آسمان
پورې تړلي دي
باب مارلي
مړ فیلسوف


محترم کس هغه دی
چه د نورو احساسات
په ناپوهۍ کې زخم نکړي
اسکار وایلډ
مړ فیلسوف


د ځان خوشالولو يوه غوره لار
د نورو خوشالول دي او
د نورو خوشالولو يوه غوره لار
د ځان خوشالول دي
ګرېچن رابين
مړ فيلسوف



هره پاکلمني ښځه
ښکلې او د خوښې وړ ده
ويکتور هوګو
مړ فيلسوف



په يو وخت کې
عاشق او عاقل
نشئ اوسېدلی
باب ډيلن
مړ فيلسوف



خوبونه مې ستا
د عطرو بوی کوي
لکه چه هره نيمه شپه
مې له لرې پټ
په غېږ کې نيسې
فدريکو
مړ فيلسوف



لوی امیدونه
له لویو
بدبختیو زیږیږي
مړ فیلسوف
برتراند راسل



د تیارو لعنتولو په ځای
یوه شمعه روښانه کړه
کنفسیوس
مړ فیلسوف



ځم ځان ته اور اچوم
کاندې چا ته رڼا وکړم
یا څوک ګرم کړم...
مړ فیلسوف



څوک چه مینه کوي کم دي
څوک چه د مینې په قدر
پوهیږي هیڅ نشته
آل پاچینو
مړ فیلسوف



تر ټولو لوی کار چه د خپل اولاد
لپاره يې کولای شئ :
د مور سره يې مينه وکړئ !
مينه ناکه کورنۍ ستاسو او
نورو لپاره له جنته غوره ده
پائولو کوئيلو
مړ فيلسوف


پرون شپه نه پوهېدم
کوم درد ته مې وژاړم
زښته ډېر مې وخندل
صادق هدايت
مړ فيلسوف


زه نه وايم چه زر ځله مې ماتې خوړلې
بلکې وايم چه د شکست خوړو
زر شته لارې مې کشف کړې دي
اډيسن
مړ فيلسوف



که غمگين ياست
په پخوا کې ژوند کوئ
که په بېړه کې ياست
په راتلونکي کې ژوند کوئ
که آرام ياست
په نن کې ژوند کوئ
لائو تزو
مړ فيلسوف



که غواړې پس له مړينې هېر نشې
یا د لوستلو وړ څه ولیکه
یا د لیکلو وړ کار وکړه
بنجامین فرانکلین
مړ فیلسوف



نېچه
تل آرامي انسان تنبلوي
کله کله توپان هم اړین دی
مړ فیلسوف


د ځینو خلکو زړونه لکه
د بوینو پښو داسې بوی کوي
ځکه چه د خلکو تګ را تګ
پکې بېخي ډېر وي...
مړ فیلسوف



سخت ناروغ یم
او ته مې
یواځېنی درمل یې
چېرته یې؟
مړ فیلسوف


غوړه مالان او دوستان
یو بل ته ورته دي
همداسې لکه سپیان او لېوان
چه یو بل سره شباهت لري
مارک ټواین
مړ فیلسوف


خوږې ښځې
تر ټولو ډېرې ترخې وي
نیچه
مړ فیلسوف



هو دنیا چټله ده خو،
ستا اوښکې یې نشي پاکولی
ژاړه مه ! !
مړ فیلسوف



د اوښکو پاکولو په ځای
هغه کسان له ژونده
پاک کړی چه ژړوي مو !
مړ فیلسوف



هیڅ شی مو د مشترک
دوښمن پشان نشي متحد کولی
م. فیلسوف



که په جنګ کې عزت وای
سپی به د ټول جهاڼ باچا وای
م. فیلسوف


ښه دی بیا هم انسان په
ماشین یو ښه والی لري
د ځان په پلورلو خو قادر دی
یرژي لتس
م. فیلسوف



حتی که کومه چوپتیا
د حقیقت ځای ونیسي
هغه چوپتیا هم دروغجنه ده



ژوند کول په نړۍ کې
ډېر کم پیدا کېدونکی ځیز دی
ډېرۍ خلک یواځې موجود دي
ژوند نه کوي...
اسکار وایلډ
مړ فیلسوف


دومره نه یم سړی شوی
چه مور واوسم!
سبکر
مړ فیلسوف



پوهان ناپوهان پېژني
ځکه یو وخت ناپوهان وو
اما ناپوهان دوی نه پېژني
ځکه هېڅ وخت پوهان نه وو
افلاطون
مړ فیلسوف


ښځې ډېره کلکه حافظه لري
خو ګرکه ډېر زر هېروي
سیمون دوبوار
مړ فیلسوف



انسان لکه رود داسې دی
هر څومره چه عمیق وي
هغومره آرم او متواضع وي
شارل مونتسکیو
مړ فیلسوف



څوک چه د عقیدې د
اظهار حق نلري ژوندي
نه ګڼل کیږي
مونتسکیو
مړ فیلسوف



له بانک غله
د نویو غلو کار دی
زاړه غله
بانکونه تاسیسوي
برتولت برشت
مړ فیلسوف



له نورو سره خپل ځان
مه پرتله کوه
لمر او سپوږمۍ په یو وخت کې
نشي ځلېدلی
هر څوک خپل خپل وخت لري


مړ فیلسوف
جاهلین هم ځان وژني هم نور
پوهان هم ځان ژغوري هم نور


صداقت که ډېر
ملګري نه درکوي
تر ټولو غوره او
همېشني خو درکوي
جان لنون
مړ فیلسوف


یواځېنی جنګ چه له خپل دوښمن
سره یو ځای پکې ویده کېږې:
د متاهلی ژوند دی.
مړ فیلسوف


که د ناحقو خبرو
د مخالفت جرأت نلرې
چکې خو مه ورته وهه!
مړ فیلسوف


نه بیان شوي احساسات
هیڅ وخت نه هیریږي
اندري
مړ فیلسوف



مینه...
د هـــــر شي
ځــــواب ده
جان لنون
مړ فیلسوف


په شیانو او خلکو
ځانونه مه تړئ
شیان ماتیږي او
خلک ورکیږي
مړ فیلسوف



مینه لکه ګل
داسې ده
باید روزنه یې
وکړل شي
جان لنون
مړ فیلسوف



کله چه مینه ماته شي
خوبونه ورک او
هیلې قتلیږي
مړ فیلسوف



کله چه مینه ماته شي
خوبونه ورک او
هیلې قتلیږي
مړ فیلسوف


د ځان لپاره هیڅوک نه پوهیږي
خو د نورو لپاره ټول پوهیږي
چه څرنګه ژوند وکړي
پایلو کوئلو
مړ فیلسوف


قوي زړه له ټولو ډېر
دردونه او زخمونه لري
مړ فیلسوف


دوې ډلې خلک تل بدبخته دي
هغوی چه هېڅاته نه غوږ کېږدي
هغوی چه هر چا ته غوږ کېږدي
چرچل
مړ فیلسوف


که بل هېڅ مو
له مړینې ونه ساتي
حد اقل مینه خو
مو له ژونده ژغوري
پابلو نرودا
مړ فیلسوف



ته باید پوه شې !
ژوند هغه څه ندی چه،
تا ته درکړل شوی بلکه،
هغه څه دي چه ته یې جوړوې
او لاسته یې راوړې
مړ فیلسوف



د ژوند غمیزه مړینه نده
بلکه د هغه وړتیاوو مړینه ده
چه زموږ په ژوند مونږ کې مري
نورمان
مړ فیلسوف





شاید هغه وخت راشي چه
ه‌ډوکي مې خاورې او
له خاورو مې ګلابونه زرغون شي
خو څه فایده؟


مړ فیلسوف









په آخر کې مو د دوښمنانو
خبرې هېرووخو د دوستانو
چوپتیا هېڅکله نه...
مارتین
مړ فیلسوف


یواځې هغه وخت به
مې په مړینه افسوس
وکړم چه مرګ مې د
مینې له امله نه وي
ګابرېل ګارسیا
مړ فیلسوف



بې توپیرې
یوازې د مچ لوښه ده
چه پاک او ناپاک ته
په یوه سترګه ګوري
مړ فیلسوف
مجاور احمد زیار



یواځېنی کس چه
مخکې د قرار لري
ته یې!
آرونفسکي
مړ فیلسوف



هغه ځای ته مې یوسه
چه شتون...
مړ فیلسوف
دنه خلاصبري


له هغو وډار شئ
چه مينيږي نه او
مړ فيلسوف
مينول يې ښه زده دي



یو تا مړ کړم
ټولي نړی
ژوندی نکړم...
مړ فيلسوف



غلطیو ته د مرور او توقف
په ځای حل لار پیدا کړه
شکایت خو هر څوک کولی شي!
هنري فورډ
مړ فیلسوف



پدې نړۍ کې زموږ ټولو تر منځه
مشترک ټکی دا دی چه
ټول یو له بله استفاده کوو خو
ځینې یې بایلي او ځینې یې ګټي
کارلوس فوئنتس
مړ فیلسوف


نه پوهیږم خلک ولې
په ډکه خوله خبرې کول
بد ګڼي خو په خالي مغزو نه
آرسن ویلز
مړ فیلسوف


مرغۍ ته یې
آسمان زه یم
چېرې به ځې؟
مړ فیلسوف








که په لومړي قدم
بريا ته رسېدلی
هڅې او عمل به
هيڅ معنی نلرلی


مړ فيلسوف



د ټولې...
نړۍ نفوس
یو نفر وو
هغه هم نشته...
مړ فیلسوف

د انسانانو په منځ کې اوسېدل
حماقت دی او ترې تلل خیانت
خو زه غوره ګڼم چه؛
احمق واوسم، نه خاین
مړ فیلسوف






د بل کام اخیستو لپاره
تل لږ لېونتوب اړین دی
پاتلو کونیلو
مړ فیلسوف






زه لمر یم او ته سپوږمۍ
که څوک یې نه مني
فاصلې د اندازه کړي
مړ فیلسوف



دښمن د نه یم ځکه د نه خندوم
ملګری د یم ځکه د ژړوم
او حقیقت نه درځخه پټوم
شیر کو بیکس
مړ فیلسوف



چېرته چه باید اعتراف وکړي
خو دی چوپ کښېني
هغه بلکل بې غیرته دی
ابراهام لینکلن
مړ فیلسوف


ناهیلی هیڅ وخت
نه بریالی کیږي
او بریالی هیڅ وخت
نه ناهیلی کیږي
پرمودا باترا
مړ فیلسوف


جنګ...؟
نه نه نه او نه!
معلومه خبره ده
ماتې خورم او
اشغالوې مې...



د بې عدالتۍ نړۍ ده
که قبوله یې کړې
په جرم کې شریکیږې او
که وغواړې اصلاح
یې کړې جلاد کیږې.
سارتر
مړ فیلسوف



د نورو په شان مه اوسه
حتی که په ټوله نړۍ کې
یوازې ته هم وې!
داستایوفسکي
مړ فیلسوف



شعور او وجدان عضلو ته ورته دي
عضلې چه ونه کاروو
ورو په ورو ضعفیږي
او له کاره لویږي
بوستین ګردر
مړ فیلسوف



تر ټولو سخته
شکنجه
ته یې د بل سره . .
مړ فیلسوف



حتی ځینې خلک چه غواړي
عیبونه یې ورته ووایاست
هم د ستاینې په انتظار وي
ویلیم سامرست
مړ فیلسوف



فتوا!!!
کلونه کېږي چه شهید شوی یم
نه مې څوک جنازه کوئ او
نه مې څوک خاورو ته سپارئ
ټول کافر یاست ولا که ټکی
د مسلمانی درپکې وي
مړ فیلسوف



کله چه یوائې یو
په ملګري پسې ګرځو
کله یې چه ومومو
په عیبو پسې یې ګرځو
او کله یې چه له لاسه ورکړو
په خاطرو پسې یې شو...
سارتر
مړ فیلسوف


دوې ډلې خلک تل بدبخته دي
هغوی چه هېچا ته نه غوږ کېږي
او هغوی چه هر چا ته غوږ کېږي
چرچل
مړ فیلسوف


بېلیون مخه
کتاب مې پیل کړ
عنوان یې دی
ستا یادونه!
مړ فیلسوف


پیسې لکه شپږم حس
په نشتون کې یې
پنځه نور حسونه کار نکوي
وېلیم سامرست
مړ فیلسوف


که د یو ملت په سر کې
د پوهې او اخلاقو تخم وکرئ
ځارنه یې وکړئ، روښانه یې کړئ
او روزنه یې وکړئ وبه وینئ چه؛
نور دا نازک خیاله سرونه
د دار او مړینې ندي. . .وېکتور هوګو
مړ فیلسوف


د موقتي ناراحتی
له امله هیڅ وخت
دایمي حماقت مه کوئ!
مړ فیلسوف

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**